
بشپړ معلومات
Ketabton.com
نمرود
هغه بادشاه چې غوښتل يې الله تعالی سره جنګ وکړي.
ليکوال: سيدادريس سادات

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بسم الله الرحمن الرحيم.**

## د کتاب پېژندنه

| | |
|---|---|
| نوم. | نمرود |
| لیکوال. | سیدادریس سادات |
| ډیزاین. | پخپله لیکوال |
| د لیکوال شماره. | ۰۷۳۱۳٦۳۲۰۱ |
| بڼه. | انلاین |
| کال | ۲۰۲۴ |
| انلاین ډانلوډ. | کتابتون |
| ټلګرام چینل . | https://t.me/sadattvnovel |

**که تاسې هم د خپل کتاب لپاره داسې ډیزاین غواړئ، یا هم د کتاب یا ناول په اړه کومې مشورې ته اړتیا لرئ، نو له موږ سره په لاندې شمارو په اړیکه کې شئ.**

**0731363201**

**SA**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نمرود

**یادونه: که چیرې تاسې وغواړئ، نو په فلمي شکل يې هم له لاندې یوټیوب لینک څخه لیدلای شئ.**

**https://youtu.be/Mh0IJYH5DOs**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شروع کووم، په نامه د هغه لوی ذات چې ډیر مهربان او ستر رحم کوونکی دی.**

**لکه څرنګه چې تاسې ته معلومه ده، زموږ په کایناتو کې ډیر داسې لوی لوی شاهان تېر شوي دي.**

**چې غوښتل د خدای نظام ته تغیر ورکړي، پدوي کې داسې شاهان هم وو، چې د الله تعالی د الوهیت څخه یې انکار کړی دی.**

**او برعکس یې د الوهیت او خدایی دعوې هم کړې دي، د خدایی له د عوه ګرانو بادشاهانو څخه یو بادشاه داسې هم وو.**

**چې الله تعالی ورته په ټوله نړۍ کې ستره بادشاهي ورکړې وه.**

**دې بادشاه نه یوازې دا چې ځان ته یې خدای ویلای وو، بلکې دا دومره رزیل او کمعقل انسان وو، چې غوښتل یې د الله تعالی سره مقابله وکړي، او انعوذ بالله د الله تعالی سره جنګ وکړي.**

**درنو دوستانو اوس به تاسې دا ووایم، چې نمرود بدبخت بادشاه څوک وو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او هرکله چې هغې وغوښتل د الله تعالی سره جګړه وکړي، نو الله تعالی هغه په څومره ادنی مخلوق سره هلاک کړ.**

**درنو دوستانو که چیرې تاسې غواړی د قرانکریم په دغه نادره کیسه تر پایه پوه شئ، نو زما له تاسې څخه دا غوښتنه ده، چې زموږ دغه ویډیو له پیله تر پایه په پوره ډول وګورئ، او خوند ورڅخه واخلئ.**

**درنو ملګرو په نړی کې صرف څلور ستر شاهان تېر شوي دي، چې الله تعالی ورته د ټولې نړی واکمني ورکړې وه.**

**د دوی له ډلې څخه دوه بادشاهان مسلمانان وو، او دوه نور بیا کفار وو.**

**د مسلمانانو بادشاهانو له ډلې څخه د یو نوم حضرت ذالقرنین ع دی، او بل حضرت سلیمان ع دی.**

**په کومو باندې چې الله تعالی د نبوت منسب لورولی وو،**
**او د کافرو بادشاهانو له ډلې څخه یو هم نمرود او بل بخت نصر وو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



درنو اوریدونکو!

د الوهیت دعوه کوونکی نمرود د بابل ښار واکمن وو.

دی نمرود بن کنعان بن قوس بن سام بن نوح ته منسوب دی.

یارانو په ځینو روایاتو کې راځي، چې الله تعالی نمرود ته د پوره نړۍ واکمني او بادشاهي ورکړې وه.

او دغه بادشاه په ټوله نړۍ څلور سوه کاله حکوکت کړی دی، دا د خپل وخت تر ټولو ظالم او جابر بادشاه وو.

او د ده په دور کې بت پرستۍ ډیر زیات پیروان درلودل، خلکو د الله تعالی د وحدانیت دین پریښود او د پرستي دین ته یې راودانګل، او نمرود یې د خپل خدای په ډول ومنلو.

او د هغه عبادت به یې کاوه، پدې نمرودي دور کې بوت پرستي دومره عامه وه، چې ټولو نمرودیانو د ځانونو لپاره ډیر زیات بوتان جوړ کړي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اصل کې دوی ټول نمرود دیته مجبوره کړي وو، تر څو د هغه عبادت وکړي.

پدې دور کې الله تعالی د نمرودیانو د لارښوونې لپاره خپل مینه ناک پیغبر حضرت ابراهیم ع په پیغمبرۍ مبعوث کړ.

د کفر او شرک په داسې سخت دور کې حضرت ابراهیم ع هغه یواځینې شخص وو چې دالله تعالی په وحدانیت یې ایمان درلود.

هغه یواځینی شخص وو، چې د بت پرستۍ خلاف یې د الله تعالی وحدانیت او بادشاهي منله، او خپل قوم ته یې هم د ستر ذات الله تعالی پر لور دعوت ورکاوه.

هغې ص خپل قوم ته داسې فرمایل:

الله تعالی یو دی، او هیڅ شریک نلري، مگر دې نمرودی قوم د الله تعالی دین نه مانه!

او بیا یې هم د نمرود عبادت کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوه ورځ ابراهیم ع د دې اراده وکړه، تر څو هغوی ته د هغوی ددروغجنو خدایانو اصلیت وروښایې.**

**هغه پدې ورځ د بوتانو هغه بت خانې ته ورغی، چې د نمرودیانو ټول بوتان پکې وو.**

**پدې ورځ ټول نمرودیان د نمرود خواته د هغې د فرمان اوریدلو لپاره ورغلي وو، ابراهیم ع د دې ځای ټول بوتان ورمات کړل.**

**کله چې نمرودیان خپلې بوتخانې ته راغلل، نو هغوی خپل ټول بوتان مات مات ولیدل!**

**نمرودي قوم تر ټولو زیات پدې پوهیده، چې زموږ له مینځه یواځې ابراهیم ع وو چې دلته پاته وو.**

**او هغه د بوتانو خلاف خبرې هم کولې، او د دې بوت پرستي پر ځای یې خلکو ته د واحد خدای الله تعالی په لور د عبادت حکم ورکاوه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بالاخره کله چې نمرودیانو خپل بوتان مات ولیدل، نو پدې له ورایه پوه شول چې دا کار د حضرت ابراهیم ع دی.**

**هغوی د ابراهیم ع څخه د بدلې اخیستلو په پار د هغه د وژلو طرحه جوړه کړه.**

**لکه څرنګه چې ټول نمرودیان دلته موجود وو، نو دا خبر یې تر نمرود پورې ورسېده.**

**نمرود ته یې د ابراهیم ع ټوله کیسه وکړه، نمرود چې کله پدې کیسه خبر شو، نو سر یې له ډیر غوصې و څرخېد.**

**نمرود داسې حکم ورکړ، چې یوه لویه دښته پیدا کړئ.**

**اور پکې بل کړئ، او په هغې کې حضرت ابراهیم ع واچوئ.**

**د نمرود د حکم منلو په اساس نمرودیانو له ځنګله د ډیرو زیاتو ونو لرګي راټول کړل، او په یوه خالي بیدیا کې یې وغورځول.**

**د هغې په منځ کې یې اوربل کړ، چې دا اور د ابراهیم ع د وژلوو لپاره جوړ شوی وو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا اور دومره تېز وو، چې شغلې يې تر اسمانه رسېدلې،.**

**د نمرود له حکم سره سم نمروديانو ابراهيم ع د اور و منځ ته وغورځاوه.**

**هر کله چې ابراهيم ع د اور منځ ته تشريف ور وړ، نو الله تعالی اور ته امر وکړ.**

**چې ای اوره د ابراهيم ع لپاره يخ شه، هماغه وو چې ابراهيم ع لپاره اور يخ او سلامتيا ورکوونکی شو.**

**حضرت ابراهيم ع فرمايلي دي، زه چې څومره ورځې په اور کې وم.**

**هماغومره ورځو کې د الله تعالی په خاص فضل او کرم کې وم، څومره سکون چې ما د هاغه اور په منځ کې حس کړی دی.**

**هغه مې لدې مخکې هيڅ وخت هم نه وو محسوس کړی، يارانو څو ورځې وروسته حضرت ابراهيم ع د هغه اور څخه ژوندی بيرون راووت.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې منظر په ليدلو سره ټول نمروديان حيران شول، مگر لدې سره سره بيا هم نمرود او د هغه ټولو نمرديانو د الله تعالی په وجود او وحدانيت ايمان رانهووړ.

او لکه د پخوا پشان پخپله بوت پرستۍ کې موبتلا شول، د دې باوجود هم حضرت ابراهيم ع له خپلې لياري څخه وانه وړېد.

او بيا يې هم خپل قوم ته د واحد الله تعالی پر لور بلنه ورکوله.

حضرت ابراهيم ع بار بار نمرود پوه کړ، چې له خپل کفر څخه واوړه او په الله تعالی ايمان راوړه!

نه يوازې دا چې نمرود د حضرت ابراهيم ع لدې وينا څخه انکار وکړ، بلکې ويې غوښتل چې د ابراهيم ع سره مناظره وکړي.

په مناظره کې نمرود د حضرت ابراهيم ع په مخ کې د خدايې او الوهيت دعوه وکړه.

نمرود په مناظره کې له حضرت ابراهيم ع څخه داسې پوښتنه وکړه:

چې ستا رب څوک دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابراهیم ع ځواب ورکړ، زما رب هغه څوک دی.

چې انسانانو ته هم ژوند ورکوي، او هم یې ترې اخلي،

د دې خبرې په اوریدو سره نمرود وخندل، او حضرت ابراهیم ع ته یې وویل:

دا کارونه خو اصلا زه کووم.

د ده په زندان کې هاغه وخت دوه زندانیان اوسېدل، نمرود پدې دواړو د مرگ حکم ورکړی وو.

مگر نمرود پکې یو وواژه او بل یې ژوندی پریښود.

نمرود حضرت ابراهیم ع ته وویل:

وگوره ما یو ته ژوند ورکړ، او بل مې مړ کړ.

نو دا خبره به تاته اوس معلومه شوې وي، چې الیاعوذ بالله اصلي خدای زه یم.

د دې سره په مناظره کې نمرود خپل لومړی دلیل د حضرت ابراهیم ع په وړاندې پیش کړی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نو نمرود ابراهیم ع ته وویل:**

**ودې کتل حقیقي خدای خو زه یم، ووایه ستا خدای څوک دی؟**

**د دې نه وروسته حضرت ابراهیم ع نمرود ته د هغې د عقل مطابق یو خوندور ځواب ورکړ.**

**او ویې ویل:**

**زما رب هغه څوک دی، چې هر سهار له مشرق څخه لمر راپورته کوي.**

**او په مغرب کې یې بیرته ښکته کوي.**

**که چیرته الیاعوذ بالله ته حقیقي خدای یې، نو یوه ورځ داسې وکړه.**

**چې د مغرب نه لمر راپورته کړه او په مشرق کې یې بیرته ښکته کړه.**

**بیا به زه ومنم، چې ته الیاعوذ بالله خدای یې!**

**هر کله چې نمرود د ابراهیم ع دغه خبر واورېده، نو د هغه رنګ زیړ شو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغه بې ځوابه پاته شو.

او په خپل ټول قوم کې ذلیل او رسوا شو.

درنو دوستانو تر دې وروسته هم ابراهیم ع نمرود ته په حق دین باندې د مشرف کېدلو بلنه ورکړه، مگر نمرود بیا هم د خپلې سرکښۍ څخه لاس په سر نشو.

د ابراهیم ع له ډیر ځله تبلیغ سره نمرود تنگ شو، او حضرت ابراهیم ع ته یې داسې وویل:

که چیرته ستا خدای ریښتینی دی، نو ته دې خپل خدای ته ووایه چې خپل لښکر او فوج چمتو کړي.

او له ماسره دې جنگ وکړي.

هر کله چې ابراهیم ته نمرود داسې بکواس وکړ، نو فورا جبراییل امین د حضرت ابراهیم ع و خوا ته راغی.

او ورته یې وفرمایل:

چې د الله تعالی لښکر د جگړې لپاره اماده دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د جبراییل ع د دې خبرې سره ابراهیم ع نمرود ته وویل:**

**زما د خدای لښکر د جنګ کولو لپاره چمتو دی.**

**د دې خبرې سره نمرود وویل:**

**ماته درې ورځې وخت راکړئ، تر څو د خپل جنګ لپآره تیاري وکړم.**

**درې ورځې وخت یې نمرود ته ورکړ.**

**پدې درې ورځو کې نمرود د جنګ لپاره له ټولې نړۍ څخه لښکرونه تیار کړل، او د جنګ لپاره یې پوره چمتووالی ونیوه!**

**هغې په تکبر سره حضرت ابراهیم ع ته په مغروره انداز وویل:**

**زما فوځ د جګړې کولو لپاره پوره چمتو دي، ته دې خپل رب ته ووایه چې خپل لښکر راولیږي.**

**تر څو له موږ سره جګړه وکړي،**

**ابراهیم ع خدای ته لاسونه پورته کړل، دا وخت د ماشو او مچیو یو ستر فوځ الله تعالی په ټولو نمرودیانو مسلط کړ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې مچيګاونو او ماشو به له نمروديانو رکې روغې وينې څښلې او يو يو به يې راچپه کاوه.

هر کله چې نمرود دا خطرناک منظر وليد، نو لدې ځايه د خپل محل پر لور وتختېده.

او د خپلې ميرمنې په کوټه کې پټ شو. دا وخت يو شل او ګوډ ماشی د الله تعالی په امر سره د نمرود خونې ته ورداخل شو.

نمرود خپلې ميرمنې ته وويل:

دا دی د الله تعالی هغه لښکر !

چې زما ټول لښکر يې هلاک کړ، د همدې خبرو په دوران کې هغه ګوډ ماشی د الله تعالی په امر سره د نمرود په پزه کې ننوت.

او هغې ګوډ ماشي د نمرود په دماغو کې يو رګ ډير په کلک ډول نيولای وو.

او هيڅ يې نه خوشې کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دې ګوډ ماشي نمرود دومره په تکليف کې کړ، چې نمرود خپل سر پخپله له ديوالونو سره واهه.**

**ډيرې ورځې نمرود په همدې عذاب اخته وو، اخر کې نمرود داسې امر ورکړ، چې هر نفر چې د نمرود محل ته داخليږي.**

**نو بايد ضرور نمرود لس سپيړې په سر ووهي، د دې لس سپيړو وروسته به نمرود يو څه ارام حس کاوه.**

**يو څه وخت وروسته د نمرود درد يو څه ارام شو.**

**مګر دوه ورځې وروسته يې بيا درد ورته شروع کړ.**

**په همدې ډول الله تعالی نمرود د يو ګوډ او شل ماشي په ذريعه هلاک کړ.**

**هغه به هره ورځ خپل سر په ديواله واهه، او په همدې ډول په کلار کلار هلاک شو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هاغه نمرود چې الله تعالی یې نه مانه، او په تکبر سره یې الله تعالی سره د جنګ کولو تابیا ونیوله هماغه نمرود الله تعالی د یو کوچني او ګوډ ماشي په ذریعه هلاک کړ.**

**او د ټولې نړۍ لپاره یې ترې د عبرت یوه نښه جوړه کړه.**

**بیشکه الله تبارک وتعالی په هر څه باندې قادر دی.**

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کتاب نوم. نمرود**

**لیکوال. سیدادریس سادات**

**د لیکوال شماره. ۰۷۳۱۳۶۳۲۰۱**

**که تاسې هم غواړئ، خپل کتاب ته داسې ډیزاین وکړئ.**

**نو په پورته ذکر شوې، شمارې له موږ سره په واټساپ او ټلګرام کې رابطه وکړئ.**



**سیدادریس سادات**

ښه وختونه ولرئ!

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**